

Baghlan University Academic Research Journal

*https://baghlan.edu.af/ Vol. 12, Issue. 2, Serial No. 35 (2024) 177-188*

# Pashto Pluralism of Grammatical Categories Regarding Cognitive Linguistics

**Nasir Ahmad Taheri [1,*] & Masoud Hasanzai [2]**

[1] Department of Pashto Language and literature, Literature Faculty, Baghlan University, Afghanistan.
[2] Department of Pashto Language and literature, Literature Faculty, Kabul University, Afghanistan.

[*] **Corresponding Author:** Nasir Ahmad Taheri, **E-mail:** nasirahmad.taheri2015@gmail.com

**Article Info**

**Article Type:** Review Article

**Article History**:

**Received:** 20, June, 2024

**Revised:** 14, July, 2024

**Accepted:** 17, July, 2024

**Published:** 4, September, 2024

**ABSTRACT**

This article is dedicated to the pluralism of Pashto. Particals in Pashto language is a very debatable topic. From the point of view of constructive linguistics, adverbs are independent words, which do not only have meaning; Rather, in the case of combining with other words, from which the sentence is made, it expresses its meaning; But cognitive linguistics says that Particals in sentences has multiple meanings and can give different meaning in each sentence. This article discusses the same topic. Here, the introduction of Particals, the introduction of linguistics, the introduction of cognition, the types of Particals, the pluralism of Particals, which is the main topic, has been investigated and other parts have also been brought. Reliable books have been used. In the arrangement of this article, descriptive-analytical method has been used and that this topic is a new topic and it is different from traditional linguistics; that's why I called it suitable for research.

**Keywords:** Cognitive identity, Particals, Particals types, Particals pluralism .

To cite this article: Taheri, N. A., Hasanzai, M: 2024. Pashto Pluralism of Grammatical Categories Regarding Cognitive Linguistics. Baghlan University Academic Research Journal, Vol. 12, Issue. 2, Serial No. 35 - Spring – Summer (2024), 177-188. License: RCTD – GNJR – 0018 - 23.

Publisher: University of Baghlan




**د بغلان پوهنتون علمي او څېړنيزه مجله**

**مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان**

https://baghlan.edu.af/ Vol 12. Issue. 2, Serial No. 35 (2024) 177-188

# د ادراکي ژبپوهنې له نظره د پښتو وييکو څو مانيز توب

**پوهنوال نصيراحمد طاهري[1]، پوهنيار مسعود حسن زی[2]**

[1] د بغلان پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی، د پښتو ژبې او ادب څانګه.

[2] د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځی د پښتو ژبې او ادب څانګې استاد.

| اطلاعات مقاله | لنډيز |
|---|---|
| **نوع مقاله:** مقاله مروری<br>**تاریخ دریافت:** ۱۴۰۳/۰۳/۳۱ هـش<br>**تاریخ بازنگری:** ۱۴۰۳/۰۴/۲۴ هـش<br>**تاریخ پذیرش:** ۱۴۰۳/۰۴/۲۷ هـش<br>**تاریخ انتشار:** ۱۴۰۳/۰۶/۱۴ هـش | دا مقاله د پښتو وييکو څو مانيز توب ته ځانګړې شوې ده. په پښتو ژبه کې وييکي، ډېره د بحث وړ موضوع ده. د رغښتي ژبپوهنې له نظره، وييکي ناخپلواکې کلمې دي، چې يوازې معنا نه لري؛ بلکې د نورو کلمو سره د يوځايوالي په صورت کې، چې جمله ترې جوړه شي، خپله معنا څرګندوي؛ خو ادراکي ژبپوهنه وايي، چې په جملو کې وييکي، څو مانيز توب لري او په هره جمله کې بېله معنا ورکولای شي. په دغه مقاله کې په همدې موضوع بحث شوی. دلته د وييکو پېژندنه راوړل شوې، د ادراکي ژبپوهنې پېژندنه، د ادراک پېژندنه، د وييکو ډولونه، د وييکو څومانيزتوب، چې اصلي موضوع هم داده، څېړل شوې او ورسره نورې برخې هم راوړل شوې دي، په پای کې يوه کلي نتيجه راغلې او د معتبرو کتابونو ګته پورته شوې ده. ددغې مقالې په ترتيب کې د توضيحي ـ تحليلي ميتود څخه ګټه پورته شوې او دا چې دا موضوع يوه نوې موضوع ده او د رغښتي ژبپوهنې سره يې جوت توپير ليدل کېږي؛ نو ځکه مې د څېړنې لپاره مناسبه وبلله. |

**کليدي کلمې:** ادراک پېژندنه، وييکي، د وييکو ډولونه، د وييکو څومانيز توب.

استناد: طاهري، نصيراحمد.، حسن زی، مسعود (۱۴۰۳)، د ادراکي ژبپوهنې له نظره د پښتو وييکو څو مانيز توب، مجله علمی- تحقیقی پوهنتون بغلان، شماره۲، بهار و تابستان(۱۴۰۳)، شماره مسلسل ۳۵، دور۱۲. (۱۷۷-۱۸۸).

ناشر: پوهنتون بغلان.

**سريزه**

په رغښتي ژبپوهنه کې وييکي، ناخپلواکې کلمې دي، چې په يوازې توګه معنا نه شي ورکولی او په جمله کې د معنا د بدلون سبب ګرځي او يو مانيز توب لري. لاکن په ادراکي ژبپوهنه کې دابرخه، په څه متفاوت ډول څېړل کېږي، هغه داچې، دا وييکي په جملو کې څومانيزتوب لري او په هره جمله کې، ښايي بېله معنا ولري. يعنې کله چې موږ جمله اورو او هغه څه چې موږ يې د جملو د اورېدلو څخه وروسته درک کوو، دلته ښايي څو معناوې د همغه يوه وييکي د اورېدو څخه زموږ ذهن ته راشي؛ په دې خاطر وييکي هم څو مانيز توب لري، چې په دې مقاله کې پرې پوره بحث شوی.

کله چې موږ وييکي يادوو؛ نو ژر زموږ ذهن ته همغه نا مستقلې کلمې، چې د معنا په لحاظ په نورو کلمو پورې اړوندې وي، راځي؛ لاکن دا چې د وييکو په اورېدو سره او په جملو کې د هغې استعمال، زموږ ادراک څو او کومې معنا وې اخلي، دبحث وړ موضوع بلل کېدای شي او همدا زما د څېړنې موضوع ده. پښتو وييکي ډېر ډولونه لري، چې پوهاند زيار د ازادو مورفيمونو په ډله کې شمېرلي دي. مقيد مورفيمونه هغه مورفيمونه دي، چې په يوازې توګه معنا نه لري؛ بلکې په جمله کې د نورو مورفيمونو سره معنا ورکوي. وييکي هم د بنې له مخې په يوازې توګه کومه معنا نه لري؛ خو که په جمله کې استعمال شي، بيا د بېلابېلو معناوو ښکارندويي کوي.

پورتنی کومه موضوع چې ما د څېړنې لپاره ټاکلې، د ژبنيو څېړنو په برخه کې، خورا ارزښت لري؛ ځکه لا تر اوسه زموږ ليکوالان يې په سمه کارونه او استعمال نه پوهېږي. ما دلته هڅه کړې، چې د پښتو وييکو استعمال او په جمله کې د هغې معنا روښانه کړم او دا هم وښيم، چې په جملو کې پښتو وييکي څو مانيزتوب لري. تر اوسه چې د پښتو وييکو په باب کوم نظرونه موجود وو او دي، هغه دا دي، چې يوازې د کلمو او او جملو د اړوندتيا، همځېر کېدلو او يا هم د اضافت لپاره استعمالېږي. د دې خبرې معنا داده، چې تر اوسه د پښتو وييکو په چار او دندو خبرې کېدې؛ لاکن پښتو وييکي، په جمله کې د چار او دندې ترځنګ څو مانيزتوب هم لري، چې وروسته به روښانه شي.

په دې برخه کې يادونه کولای شم، چې د پښتو وييکو د څو مانيز توب په باب، لا تر اوسه په پښتو ګرامرونو کې هېڅ معلومات نشته او نه چا کار پرې کړی، هغه څه چې د پښتو وييکو په باب په پښتو ګرامرونو کې، تر سترګو کېږي، هغه په جملو کې، د وييکو استعمال دی او هغه هم يوازې د ځينو چارو په باب يې خبرې شوي دي. د بېلګې په ډول، د ارتباطي وييکو په باب ويل شوي، چې دا ادات د اړوندتيا لپاره استعمالېږي، د عطفي وييکو په باب دا خبرې شوې، چې د عطف دنده سرته رسوي، د اضافت د وييکو په باب دا ويل شوي، چې د اضافت دنده سرته رسوي، په همدې ډول تر

پایه. دا خبره لا تراوسه چا نه ده کړې، چې (په او کې) سربلونه، چې همغه مقید مورفیمونه دي، په کومو جملو کې، کومې معناوې لري؟ د پښتو وییکو په پاب ښاغلي استاد زیار داسې لیکلي: ((دا هم د ناوړېدونو یا ازادو ګړونو(مورفیمونو)، یوه غوره برخه ده او بېلګې یې په لاندې ډول دي:
۱ـ اړیکوییکي۲ـ تړوییکي۳ـ ناتړوییکي۴ـ ورتني وییکي۵ـ پېژند وییکي۶ـ سربلونه+ وستربلونه)) (زیار، ۱۳۸۴: ۲۰۳ـ۲۰۴). استاد زیار په پښتو وییپوهنه او وییرغاونه کې لیکلي دي: ((وییکي(حرف، ادات) یو ناوړېدونی نیم ازاد ګړ (مورفیم) یا هغه کوشنی ویی دی چې د غونډلې د ننه جولیزه خپلواکي لري، خو مانیز- پښوییز چار یې د آزادو ګړونو( وییونو- نومونو، کړونو ارکړولونو) په ملتیا را څرګندېږي او په دې توګه د غونډ او غونډلې په روغاونه کې برخه اخلي، لکه سربلونه(په، پر، تر، له...)، وستربلونه(سره، څخه، پورې)؛ اړیکوییکي، د عطف په مانا، لکه(او، و)، دربط په مانا، چې د غونډلې د ننه، یا آرې او څېرمه غونډلې ترمنځ اړیکې ټینګوي لکه: که، څنګه، هسې، دومره، څومره، هومره) (زیار، ۱۳۹۳: ۴۶) د ښاغلي استاد زیار پورتنۍ وېشنه، په ټولو ګرامري کتابونو کې راغلې ده او ښایي د نورو راوړلو ته اړتیا نه وي.

## د څېړنې روش

دا ښکاره ده، چې د هرې موضوع څېړل یوه بېله لار لري، چې موږ ورته د روش نوم کاروو. په همدې لحاظ ما د یادې موضوع د څېړلو لپاره یو روش ټاکلی، چې تحلیلي ـ توضیحي روش بلل کېږي او د همدې روش په ټاکلو سره مې خپله موضوع بشپړه کړې ده. دا چې زما د څېړنې موضوع د ادراکي ژبپوهنې له نظره پښتو وییکي دي؛ نو خپلې اصلي موضوع څېړلو ته راګرځم.

## د ادراکي ژبپوهنې له نظره پښتو وییکو څېړنه

د ادراکي ژبپوهنې له نظره د پښتو وییکو د څېړنې څخه موخه داده، چې په جملو کې وییکو څومانیز توب په ډاګه شي. دا ځکه چې تر اوسه د ګرامر پوهانو له لوري، په جملو کې، یوازې د وییکو چار او دنده په ډاګه شوې؛ خو معنا ته یې ښایي چا پام نه وي کړی. زه دلته د وییکو په څومانیزتوب خبرې کوم. د وییکو څومانیزتوب، ادراک او ادراکي ژبپوهنه را په ګوته کوي، په دې خاطرؤ د ادراک او ادراکي ژبپوهنې پېژندنه هم اړینه ده.

## ادراک

ادراک یوه پروسه ده. کوم څه چې د حواسو په وسیله زموږ ذهن ته راځي، وروسته له راتګ څخه درک او معنا دار کېږي. دغه پروسه ادراک ده. د ادراک په باب په اریانا دایرة المعارف کې داسې

ليکل شوي: ((ادراک په لغت کې درک کولو، موندلو، ورسېدلو اوپوهېدلو په معنا راغلی او يو مفهوم دی، چې په فلسفه کې د پېژندنې په بحث کې، په فزيولوژي کې د عصبي ميکانيزم په بحث کې او په ارواپوهنه کې د احساس او ادراک په بحث کې کارول کېږي او د انسان د بدني او ذهني فعاليتونو سره تړاو لري، د انسا ژوند د پېژندنې سره پيل کېږي او د انسان پېژندنه د واقعيتونو او پديديو له درک څخه پرته نه ترلاسه کېږي))(آرياناداېرة المعارف، ۱۳۸۶: ۲۷۵). پورته وويل شول، چې د ادراک څخه لومړی احساس دی، دا معنا چې لومړی موږ يو څه د پينځو حواسو په وسيله ذهن ته سپارو، يا يو غږ د سامعې د حس په وسيله اورو، وروسته د اورېدو څخه هغه درک کوو. ادراک د ذهني او عيني عناصرو ترکيب دی، چې د فرد او چاپېريال ترمنځ اړيکه ټينګوي. د ادراک او مانا په کتاب کې، د ادراک په باره کې داسې ليکل شوي: ((ادراک ته په انګليسي کېperception)) وايي. ادراک په حسي اطلاعاتو او پيچلې مرحلې باندې پوهېدنه ده. ادراک هغه مرحله ده، چې فرد پکې د خپل چاپېرياله کوم تصور او اخذ لري، د ادراک په وسيله يې سپړي او تنظيموي يې، چې بيا له هغې څخه مانا زېږوي))(سمون، ۱۴۰۲: ۳۱). دا هم ښکاره شوه، چې هر انسان او هر فرد بېل برداشت لري، چې له چلند څخه يې موږ هم درکولای شو. درک فردي او ټولنيز دی. د يو فرد د ليد تر زاويو پورې محدود وي، هغه څه چې دده په ذهني زېرمه کې، د يو شي په اړه تصور وي، يعني درک کړي يې وي همغه مانا ترې اخلي. دلته يو مثلث چې د حواسو، ادراک او ژبې اړوند، د استاد ښکلي له کتاب څخه رانقلوم(ښکلی، ۱۴۰۲: ۲۲)




د پورته مثلث موخه داده، چې لومړی موږ د حواسو په وسيله يو څه اورو، يا يې وينو، يا بويوو، يا يې مزه څکو، وروسته بيا هغه درک کوو او بيا يې د ژبې په وسيله وايو. يا د حواسو په وسيله بهر نړۍ

تجربه کېږي، بیا درک کېږي او بیا يې په ژبه بیانوو. دا چې په ادراک مو څه نا څه خبرې وکړې، اوس ادراکي ژبپوهنه هم درپېژنم.

**ادراکي ژبپوهنه**

ادراکي ژبپوهنه کې بحث په ماناکېږي او مانا د جوړښت نه وړاندې په نظر کې نیول کېږي. په اداراکي ژبپوهنه کې موخه مانا ده، نه جوړښت او جوړښت د مانا په خدمت کې دی. د وینا وال موخه، د ژبې د جوړښت په وسیله، د مانا انتقال دی. ښاغلي پوهاند ډاکټر ښکلي لیکلي دي: ((ادراکي ژبپوهنه په یوه بنستیي او څلورو څېرمه(فرعي) اصولو له نورو ذهني لید توګو بېلېږي. بنستیي اصل دادی، چې ادراکي ژبپوهنه ژبه یوازې مانا بولي... په څلورو څنګزنو اصولو کې لومړی اصل دادی، چې مانانندرایزه ده... مانا نرمه یا نسبي ده... مانا دایرة المعارفي ده...ما د عیني تجربې زېږنده ده.))(ښکلی، ۱۴۰۲: ۲۳، ۲۴، ۲۵).

د پورته پېژندنې څخه دا پایله لاس ته راغله، چې ادراکي ژبپوهنه، د جوړښت څخه مانا ته پام کوي او جوړښت، د مانا په خدمت کې ګڼي. په همدې لحاظ مانا، د ادراکي ژبپوهنې اساسي اصل هم مانا دی او نور څلور فرعي اصول، چې مانا نسبي ده، دایرة المعارفي ده، نندرایزه ده او مانا د عیني تجربو زېږنده ده. د دې خبرو موخه داده، چې کله یو کتاب په میز پروت وي، لومړی کتاب وینو بیا میز؛ نو ځکه وایو، چې مانا نندرایزه ده، مانا نسبي دا منا چې، موږ د حواسو په وسیله ذهن ته، د عیني تجربو په وسیله څه سپارو او وینو يې او بیا د هغې ټولې یا حوزه مشخصوو، لکه د مرغانو ټولی. وینا دایرة المعارفي ده، منظور دادی، چې کلمه له متن څخه بهر په فرهنګي او موقعیتي اوب کې مانا لري، لکه موږ چې وایو(احمد له قهره تور واوښت)، دغه تور والی، د رنګ له توروالي سره ډېر توپیر لري. په همدې لحاظ مانا، د عیني تجربې زېږنده ده، دا معنا چې کله چې موږ وایو(افغانۍ پورته وختله)، دلته پورته ختل بام ته ختل نه دي؛ بلکې د افغانۍ ارزښت پورته کېدل دي، چې دا یو انتزاعي مفهوم دی (ښکلی، ۱۴۰۲: ۲۴، ۲۵، ۲۶). دا خبره ډېره د یادونې وړ ده، چې په ادراکي ژبپوهنه کې، مانا په یو چوکاټ کې د درک وړ ده، که چېرې چوکاټ نه وي، مانا نشي پاتې کېدای. مثلاً کله چې موږ وایو (ما پرون کتاب واخیست)، پر ځای که داسې وویل شي، چې (ما پرون واخیست) مانا نه لري؛ ځکه چوکاټ يې له منځه لاړ. په هرحال داچې د ادراکي ژبپوهنې په باب موڅه پوهه حاصله کړه؛ نو ځکه اوس خپلې اصلي موضوع څېړلو ته راګرځم.

د پښتو ژبې په گرامرونو کې، د وییکو په باره کې څېړنې شوي دي؛ خو د ادراکي ژبپوهنې له نظره چا تراوسه نه دي څېړلي. رغښتي ژپپوهنه کې، د وییکو پېژندنه شوې او یوازې په چار یې خبرې شوي دي؛ خو دا چې دا وییکي په جملو کې څه معناوې لېږدوي، دغه برخه لا تر اوسه د څېړنې څخه پاتې ده.د پښتو معاصر گرامر کې داسې لیکل شوي:(( ادات د نه گردانېدونکو مورفیمونو یوه مهمه برخه ده او په لاندې ډول دي:۱ـ ارتباطي ادات۲ـ تشبهي ادات۳ـ د عطف ادات۴ـ د اضافت ادات)) (خویشکی، ۱۳۹۵: ۹۵ـ۹۶).

ښاغلي استاد خویشکي، د وییکو ډولونه راوړي دي او د هر یوه پېژندنه یې هم راوړې ده او هغه دنده، چې په جمله کې لري، څه ناڅه واضح کړې؛ خو دا چې دا وییکي، په جمله کې څه معنا لري، خبرې یې نه دي پرې کړې. په همدې شکل نورو گرامر پوهانو یې هم یادونه کړې. زه په دې بحث کوم، چې ادات په جملو کې څه معناوې لري، څومانیزتوب دي او که یو مانیزتوب. کله چې موږ د وییکو په څو مانیز توب خبرې کوو؛ نو اړ یو چې دا برخه ډلبندي کړو او په ذهن کې ټولې جوړې کړو او کوم څه چې په یوه ټولې کې، سره یو ځای کېږي، هغه د ټولې غړي دي. دلته هم وییکي، د مقیدو مورفیمونو د ټولې غړي بلل کېږي او دا ټولې په ذهن کې یو له بله اړیکې لري. د ټولیو غړیتوب په درجو ولاړ وي، چې یو غړی یې په مرکز کې وي، چې هغې غړي ته مخبېلگه وایي او نور درجه په درجه تر حاشیې پورې واقع وي. وییکي د مقیدو مورفیمونو په ټولې کې شامل دي او دهغې غړي بلل کېږي، چې بېلابېل گرامري او مانیز نقشونه لري. د رغښتي ژبپوهنې په گرامرونو کې د پښتو وییکي په څلورو ډولونو وېشل شوي، چې د عطف، ربط، تشبهي او اضافت په نومونو یاد شوي. دا نومونه یوازې د بڼې او په جمله کې یا د کلمو تر منځ د دندو له مخې ورکړل شوې؛ خو د مانیزو دندو او نقشونو له پلوه بیا بېل بحث او څېړنه ده او پورتنی نومونه ته پکې پام نه کېږي. په دې مقاله کې، ما هم د وییکو په څومانیز توب خبرې کړي دي.

په یوه ژبه کې د یومانیزتوب څخه، د څو مانیزتوب کچه لوړه وي، دا ځکه چې په ژبه کې، له یوه ژبني واحد څخه، په بېلابېلو مانیزو نقشونو کې استفاده کېږي او کله چې په بېلابېلو نقشونو کې یو وییکی وکارول شي، بېلابېلې معناوې ترې اخیستل کېدای شي. د موضوع د وضاحت لپاره، غواړم چې د پښتو وییکو له جملې څخه د عطف وییکي(او) په څو مانیزتوب خبرې او بحث وکړم.

۱ـ احمد **او** محمود کتاب لیکي.

۲ـ احمد ځي **او** راځي.

۳ـ د وطن **او** هېواد رغول مو اساسي موخه ده.

د پښتو ژبې په ګرامرونو کې(او) اصلا تړوييکی(عطف) لپاره کارېږي، يعنې په هغه صورت کې استعمالېږي، چې د لومړي کس سره دويم، په کوم کار کې شريک شي؛ دا د (او) مخښلګيي دنده او چار دی؛ خو په پورته درېيو جملو کې تړ وييکی(او) دی، چې د رغښتي ژبپوهنې له پلوه د دوو جملو او يا کلمو تر منځ استعمالېږي؛ خو پورتنی درېو جملو کې(او) درې معناوې لري. په لومړۍ جمله کې د احمد سره د کتاب په ليکلو کې، محمود هم شريک شوی او دا شراکت د( او) په وسيله شوی. په دويمه جمله کې بيا د احمد تګ او راتګ مور ته را په ګوته کوي او همدا راز په درېيمه جمله کې، وطن او هېواد د(او) په وسيله هم معنا شوي. د ( او) څخه دا درې ډوله معناوې اخيستل، ځومانيزتوب راښيي. يا که چېرې د(نو) چې اړيکوييکی بلل کېږي، ته پام وکړو، په بېلابېلو جملو کې، ځومانيز توب لري، د دې لپاره چې موضوع ښه واضح شي، لاندې بېلګو ته پام وکړئ:

۱ـ که څراغونه يې مړه وو؛ **نو** ويده به وي.

۲ـ فابريکه مو له زيان سره مخ ده؛ **نو** ته رخصت يې.

په پورته دواړو جملو کې د (نو) اړيکوييکی، په دوو ماناوو راوړل شوی، په لومړۍ جمله کې د شونتيا حالت ښيي، چې ښايي ويده به وي، به هغه صورت کې چې څراغونه يې مړه وو او په دويمه جمله کې، شونتيا حالت نه دی منعکس شوی، بلکې قاطع حکم يې کړی. د (نو) څخه دا دوه ډوله معناوو اخيستل، ځومانيز توب راښيي. د (نو) اصلي دنده او چار دادی، چې ترمخه يې جمله بايد راوړل شي او ډېری د هيلې پر وخت استعمالېږي. د(خو) اړيکوييکی، په بېلابېلو جملو کې، تر نظر لاندې ونيسو، بېلابېلې معناوې راښيي. په دې باب لاندې جملې ولولئ:

۱ـ محمود راغی، **خو** سره ومو نه ليدل.

۲ـ **خو** ته هم راشه.

په لومړۍ جمله کې د (خو) اړيکوييکي معنا داده، چې محمود راغی؛ خو دا زمينه مساعده نه شوه، چې سره ووينو، لاکن په دويمه جمله کې(خو) د تاکيد او التزام لپاره راوړل شوی، چې ته به هم راځې او دا سې هم ويلای شو، چې خو ته هم راشه، چا منعه کړی يې.د (خو) استعمال او کارونه، هغه وخت کېږي، چې ترې وروسته جمله راوړل شي او هيله څرګنده وي، په کمو حالاتو کې، د جملې به سر کې راوړل کېږي. که چېرې مور نور وييکي په نظر کې ونيسو، هم ځومانيز توب ښيي. په دې برخه کې د(نه)چې (ن) په پای کې(زورکی)( an) راغلی، په بېلابېلو جملو کې، ځومانيز توب ښيي؛ لکه:

۱ـ احمد را **نه** غی.

۲ـ ته **نه** راځې؟

په لومړۍ جمله کې(نه) فعل منفي کړی؛ خو په دویمه جمله کې بیا د پوښتنې په بڼه راغلی، چې (راځې او که نه؟)، په دوو جملو کې څو مانیزتوب په ګوته کوي . د (نه) ادات اصلا د فعلونو د منفي کولو لپاره کارېږي او د فعل نه وړاندې راځي؛ خو نور مانیزې برخې هم په جملو کې په ډاګه کوي.

ارمان **به** وکړې وخت به تېر وي. بیا **به** جهان راپسې ګورې **نه** به یمه(ښکلی، ۱۴۰۰: ۱۴۳).

په پورته لنډۍ کې د (نه) وییکو فعل منفي کړی، له دې سره بیا د(به) اداتو په وسیله راتلونکی مهال فعل شوی او له دې سره په دویمه مسره کې(به) د (وروسته) معنا هم ترې اخیستل کېدای شي، یعنې وروسته به جهان راپسې ګورې؛ خو زه به نه یم. د (به) وییکی اصلا د فعلونو د استمرار هغه هم د راتلونکي فعلونو لپاره استعمالېږي او دا یې مخښلګیي کارونه هم ده؛ خو ادراکي ژبپوهنه دا راښیي، چې نورې دندې او ماناوې هم څرګندوي. په پښتو ژبه کې نور ډېر وییکي شته، چې په بېلابېلو جملو کې څومانیزتوب لري؛ لکه د(که) وییکی، چې کله د احتمال ښیي او کله د شرط لپاره هم راوړل کېږي. لاندې جملو کې ښه واضح شوی:

۱ـ **که** شمال نه وي ـ ونه نه ښورېږي.

۲ـ **که** باران وشي ـ زه به کور ته ولاړ شم.

په لومړۍ جمله کې(که) د شرط لپاره راوړل شوی. منظور دادی، چې شمال نه وي، ونه شور نه خوري؛ خو په دویمه جمله کې بیا احتمال ښیي، هغه داچې، که باران وشي، په هغه صورت کې به زه کور ته ځم. داسې نورې بېلګې هم شته، چې د (که) څومانیزتوب موږ ته په ګوته کوي. د (که) ادات اصلا د شرط لپاره کارېږي؛ چې دا یې مخښلګیي دنده او چار دی؛ لاکن په نورو ګڼو جملو کې، نورې معناوې هم لېږدوي. د(که) وییکي په باب د وینا ژبپوهنې په کتاب کې راغلي دي:((په پښتو کې«که» لاندې ارزښتونه لري:

۱ـ شرط: که زده کړې وکړې، ستر انسان به شې.

۲ـ وړاندیز:که راسره لاړ شې!

۳ـ تمنا: که ولسمشر وای، ټول جنګواکان مې ځپل.

۴ـ امر:که راغلې، ښه به نه وي.

۵ـ ګومان:که موټر وهلی وي.))(ښکلی، ۱۴۰۰: ۳۹۱).

د پورته جملو څخه دا په داگه کېږي، چې هر وییکی، په بېلابېلو جملو کې بېلابېلې ماناوې لري، چې دا څومانیزتوب راښیي.د(که) اصلي دنده او چار شرط دی، چې دا یې مخښلگه یي مانا هم یادېږي.

په همدې شکل د(چې) وییکی کله کله د علت معنا ورکوي او کله کله بیا د وخت معنا ترې څرگندېږي. لاندې جملو ته پام وکړئ:

۱ـ **چې** ته راشې ـ زه به لاړ شم.

۲ـ زه **چې** راغلم ـ احمد نه و.

په پورته دوو جملو کې د(چې) وییکي څخه دوې معناوې اخیستل کېدای شي، لومړی داچې د شرط او علت لپاره استعمال شوی او زما د تگ لپاره شرط دادی، چې ته راشې او په دویمه غونډله کې وخت ښیي، یعنې هغه وخت چې زه رغلم، احمد نه و. موږ ته ښکاره کېږي، چې څومانیزتوب رامنځ ته شوی. د (چې) وییکي اصلي دنده داده، چې د اړوندتیا لپاره په جملو کې استعمالېږي او یا علت لپاره راځي؛ خو نورې ماناوې یې په څومانیزتوب دلالت کوي. یا :

۱ـ مور مې ویل چې درس **دې** وایه.

دا جمله کې د (دې) اړیکوویکی، د تاکید لپاره راوړل شوی او په درس ویلو ټینگار شوی. په دې جمله کې د(دې) څخه یوه بله معنا واخیستل شوه، چې څومانیز توب یې را په گوته کړ.

همداراز نور وییکي هم شته، چې د استعمال څخه وروسته ښکاري، چې څو مانیز توب لري؛ لکه:

۱ـ درس **دې** وایه.

۲ـ درس **دې** وایي.

په پورته دوو غونډلو کې د (دې) وییکي دوې معناوې لرلې دي. په لومړۍ جمله کې (دې) د تاکید لپاره استعمالېږي او په دویمه جمله کې(دې) بیا د اشارې لپاره استعمال شوی، چې د غایب لپاره اشاره ده.

موږ تر اوسه د اضافت توری(د) د اضافت لپاره استعمال کړی او دا مو قبوله کړې هم ده؛ خو داسې کلمې هم زموږ مخې ته راځي، چې هلته د اضافت توری(د)مختاړی کېږي او د کلمې پوره معنا بدلولی شي؛ لکه:

**باندې** کلمې معنا پر سر یعنې پر میز باندې، د میز پر سر معنا لري؛ خو که (د) مخکې ترې راوړل شي، بیا بله معنا ورکوي؛ لکه:

**دباندې**

دباندې کلمه د بهرون معنا لري او د اضافت توري(د) يې په معنا کې بدلون راوست، چې مختاړی واقع شوی. د (د) د اضافت توری دی او یوه کلمه په بله پورې اړوندوي او یا هم د یوې کلمې نسبت بلې ته کوي؛ خو نورې دندې او ماناوې هم څرگندولای شي، چې څومانیزتوب ورته وايي.په ځینو جملو کې د(ښايي) وییکی هم څومانیزتوب ښيي؛ لکه:

۱ـ **ښايي** هغوی راغلي وي.

۲ـ احمد ته نه **ښايي**، چې ناکام شي.

په لومړۍ جمله کې د(گوندې) چې احتمال ښيي معنا ورکوي؛ خو په دويمه جمله کې(مناسبه نه ده)، يعنې د احمد سره دا مناسبه نه ده، چې ناکام شي.دلته یوه خبره شته چې د ښايي لکې سره د(نه)نفيې توری راغلی، خو د ښايي برعکس يې نه ده کړې بلکې، بله معنا يې ورکړې؛ نو ځکه موږ وایو، چې کله د (نه) ادات ورسره راوړل شوی وای، باید د (ښايي)برعکس معنا ترې اخیستل شوې وای، حالانکې، بله معنا يې ورکړې؛ نو ځکه څومانیزتوب يې رامنځ ته کړی.

**پايله**

د تېرې ليکنې څخه دا پايله لاس ته راځي، چې د پښتو ژبې وییکي، یوازې د چار لپاره نه استعمالېږي؛ بلکې څومانیزتوب لري او دا څو مانیزتوب موږ ته اداراکي ژبپوهنه راپېژني. لا تر اوسه زموږ ذهن دا و، چې وییکي یوازې، د ارتباط، تړښت، اضافت او ورتوالي لپاره استعمالېږي؛ خو وس دا ثابته شوې، چې د يادو دندو او چارو ترڅنگ څومانیزتوب هم لري او په بېلابېلو غونډلو کې، بېلابېلې معناوې ترې اخیستل کېدای شي. په دې لحاظ، موږ ته دا اړینه ده، چې خپلې تېروتنې اصلاح او لوستونکو ته یو عمومي او تایید شوی مفهوم وړاندې کړو. بل دا چې موږ ته دا هم روښانه شوه، چې وییکي په متن کې، د متن د انسجام لپاره کارېږي؛ نو ځکه يې د کارونې سره پوره دقت په کار دی.په دغه برخه ما د خپل وس او توان څېړنه وکړه، ایړنه يې بولم، چې نور څېړونکي هم دغه برخې ته پام وکړي.

**وړاندیزونه**

د دې څېړنې څخه وروسته ځینې وړاندیزونه لرم، هغه داچې:

۱ـ د پښتو ژبې وییکي خورا ډېر دي او د ټولو وییکو د څومانیزتوب په باب څېړنه کول، د یوې مقالې د حجم څخه وتلی کار دی.

۲ـ په دغه برخه کې باید د ماستری دورې محصیلینو او یا نورو څېړونکو ته دندې ورکړل شي، تر څو يې په پوره ډول وڅېړي او څومانیزتوب يې روښانه کړي.

۳ـ د پښتو وییکو د څومانیز توب سره باید، د وییکو چارې هم روښانه شي او دا روښانه شي، چې هر وییکی په چملو کې څو چاریز دی.

**اخځونه**

۱ـ آریانا دایرة المعارف، لومړی ټوک.(۱۳۸٦). د افغانستان د علومو اکاډمي. د دایرة المعارف ریاست.

۲ـ خویشکی، محمد صابر.(۱۳۹۵). پښتو معاصر گرامر (له فونیمه تر جملې).کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

۳ـ زیار، مجاور احمد.(۱۳۹۳). پښتو وییپوهنه او وییرغاونه.جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۴ـ زیار، مجاور احمد.(۱۳۸٦). لیکلارښود.پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۵ـ سمون، محمد مصطفی.(۱۴۰۲). ادراک او مانا.کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

٦ـ ښکلی، اجمل.(۱۴۰۰). د وینا ژبپوهنه.کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

۷ـ ښکلی، اجمل.(ناچاپ).د د ادراکي ژبپوهنې په رڼاکې د پښتو گرامر څېړنه.ناچاپ.